مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۴/۰۳/۲۴

# تړلي مکتبونه،

## ويرونه او بارونه

نوی تعلمي کال پيل شو، خو له نويو خواشينيو سره، نه يوازې دا چې د نجونو تړلي ښونځی او ټولګي تړلي پاتې شول؛ بلکې د ميډيا تازه رپوټونو کې ويل شوي دي چې په افغانستان کې ښوونځيو ته ۳۳۰ زره نورې نجونې هم له ورتګ منع کړای شوي دي.

د بيبيسي په يوه تازه رپوټ کې راغلي دي چې: «په افغانستان کې د طالبانو حکومت پوهنې وزارت اعلان کړی چې سبا چارشنبه په ټولو سرو سيمو او ولايتونو کې نوی (۱۴۰۳) ښوونيز کال پيلوي. دا په داسي حال کې ده چې د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق 'يونسيف' بيبيسي ته ويلي چې سږ کال به په افغانستان کې له ۳۳۰ زرو ډېرې نورې نجونې هم ثانوي زدکړو لپاره ښوونځيو ته له تللو بې برخې شي.»

د دې ظالمانه بنديز په مقابل کې خلک خپل غږ جګوي، په لاندې شعر کې وګورئ چې شاعر خپل غږ جګ کړی دی او د ښوونځيو د تړلو ستونزه يې څنګه په هنري بڼه انځورکړې او واقعيتونه د هنر په ژبه بيانوي:

شملو وهلي نـه دي دا خو لُنګ وهلي دي
د قام په شعوورونو مي چـا بنګ وهلي دي

زموږه کـتـابـو کې غـنـو ځالي کړي دي
زموږه د مکتب دروازې زنګ وهلي دي

دا لوني شوي د پوهې د رڼا څخـه محرومي
دا خويندي د کم عقلو ورونـو ننګ وهلي دي

دا زړونه د حرا د غره اقراء غوارې خالقه!
دا سترې اروګاني نـورې جنګ وهلي دي

باوره! دلـتـه چا کـرلـي ونـي د شعور وی
دا کوم په رنـاګـانـو بـانـدې تنګ وهلي دي!؟

د ۱۴۰۳ ښوونيز کال پيل؛ طالب چارواکو د عصري او ديني علومو په ارزښت ټينګار کړی خو د نجونو زدکړو په اړه غلي دي.

د نجونو د ښوونځيو بېرته پرانستلو لپاره او د ښځو د کار د پيل کولو لپاره د خلکو او نړيوالې ټولنې ستوني سترې شول، خو د چارواکو غوږونه کاڼه دي او څه نه اوري. دا دی بيا د عامو خلکو د بيا ـ بيا غوښتنو په څنګ کې ملګرو ملتونو يو ځل بيا خپل غږ جګ کړی او ويلي يې دي چې:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

**«ملګرو ملتونو یو ځل بیا په افغانستان کې د طالبانو پر حکومت غږ کړی چې د نجونو او ښځو پر لوړو او ثانوي زده کړو بندیز لیرې کړي»**



په همدې باب د بي‌بي‌سي پښتو په یوه رپوټ کې داسي راغلي دي:

**«په افغانستان کې د ملګرو ملتونو استازولی یوناما د طالبانو پر حکومت غږ کړی چې د نجونو پر ثانوي او لوړ زده کړو د دوی په وینا غیر عادلانه او زیانمووونکی بندیز لیرې کړي.**

یوناما ویلي، د سولې او سوکالۍ لپاره زدکړې اړیني دي او ټول باید زدکړې وکړي. یوناما دا غوښتنه په داسي حال کې کوي چې پرون د ۱۴۰۳ لمریز کال له لومړی ورځې سره سم نوی ښوونیز کال هم پیل شو...

ویل کیږي چې سږکال به یو اعشاریه دوه میلیونه نوي زدکوونکي ښوونځیو کې داخل شي، خو دا دریم کال دی چې په پرلپسې ډول نجوني په نوي ښوونیز کال کې د بدلون له هیلو سره سره محرومیږي او د برخلیک په اړه یې په ځرګنده څه نه ویل کیږي...»

د دي ټولو ستونزو په اړودوړ کې بیا په افغانستان کې نوی تعلمي کال پیل شو، خو ګورو یې چې د افغانستان د نوي نسل له زدکړو محروموول د نجونو د ښوونځیو د بندېدو، د ځوانو نجونو پرمخ د پوهنتون د زدکړې دروازې تړل او په ادارو کې د ښځمنو پرکار باندي بندیز؛ پر ټولو محروم کړای شوو ښځینه‌وو او د هغوی د کورنیو پر اوږو باندي درانه بارونه داسي پراته دي چې ټول ملت یې تربارلاندي زګېروي کوي. خلک د ترخه ژوندانه د ویرونو تر بارونو لاندي داسي ستړي دي چې همدا دونیا ورته دوزخ شوې ده او خلک مجبور دي چې و قهرېږي او د ښوونځیو تړلي دروازي پرانیزي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ